انجنیرسید عبدالقادر ۲۰۱۰/۰۱/۲۵م

# په افغانستان کښي ديرغلي ځواکونوډيربښت به دبشري اواقتصادي تلفاتو سره يو ځاي يوازي ددوي دماتي وخت لږ څه ور اوږد کړي!

۱ــ ديرغلي ځواکونو داحتمالي وتلو په اړوند دروسيي ددولت او دداخلي لوي جنګ سالارانو او اقتصادي جنايتکارانو غبرګون :

۲ ــ دلندن دنړيوال کنفرانس رهبري ته يو وړانديز:

دابښکاره اوعيني حقيقت دي چه هر اشغال او يرغل په هره بڼه او هدف چه يو ولس ترپښو لاندي او يرغمل کوي يي، معلومه او طبيعي خبره ده چه ژر يا لږ وخت وروسته دهغه ولس ديټ او ښکاره مقاومت سره مخا مخ کيږي. ګرچه د۲۱قرن امريکايي او ناټويي اشغالونه، په تبليغاتي او تاکتيکي لحاظونو د ۱۹ مې او ۲۰ مې پيړيو داشغالونو سره په يوه ښکاره توپير باندي مخ ته ځي. هغه داچه دامپرياليستي نړي پريوه يرغلي بيرغ باندي دتروريزم پر ضد مبارزه او پر بل بيرغ باندي دديکتاتوري له منځه وړل او ډموکراسي تامينول ليکل سوي وي. او تر دغو شعارونو لاندي خپلو شوموهدفونو ته درسيد وله پاره يرغلونه کوي اوپه دې لاره کي دهيڅ نوع بشري او اقتصادي جنايتونو څخه مخ نه اړوي. متاسفانه ددوي سره په دې لاره کي ددوي تر اقتصادي اغيزي لاندي نړيواله اداره (ملګري ملتونه) ځيني وخت ددوي سره ځنګ پر ځنګ او ځيني وخت بيا تر شاه په پسي وي. ځکه نو په داسي پيچلو سياسي جنګي حالاتو کي چه دا يرغمل سوي ولسونه دهرډول بشري او اقتصادي جناياتو سره مخامخ کيږي، په نړي کښي يي هيڅوک آواز نه آوري. ځکه نو دا يرغلونه او اشغالونه په ډير وحشتناکه بڼه مخ ته ځي او ډيري ناخوالي وشاته پريږدي. چه ښه مثالونه يي د۲۱مې پيړي په دې لومړي لسيزه کي پر افغانستان او عراق پر بي ګناه ولي غيور ولسونو باندي دامريکا او ناټو وحشتناکه ير غلونه او اشغالونه دي، چه اوس هم ادامه لري.

بايد ووايو چه پر افغانستان باندي دامريکا او ناټو ۸ کلن يرغل او ددوي بشري او اقتصادي جنايتونو نه يوازي دافغان غيور ولس دمقاومت ليکي ټينګي او پراخه کړي، بلکه ديرغلي حاکميتونو ولسونوهم ددوي په وړاندي سختي سياسي ستونځي جوړي کړي، او غواړي ددې لاري څخه خپل واکمنان ودې ته اړ کړي چه خپل بچيان دافغانستان ددې مجهول، بي ګټي، وحشتناکه او بشري ضد جنګ څخه راوباسي.

ځکه نو دامريکا د ولس مشر اوباما څخه نه يوازي دافغان ولس بلکه دناټود هيوادونو ولسونو هيله او اميد هم دا وو، چه دافغانستان په هکله دنوي ستراتيژي په اساس کي به يي دافغانستان داوسني لانجي سياسي حل نغښتي او ځاي پر ځاي کړي وي. ولي دولسونو د هيلو خلاف اوباما، وافغانستان ته دنووديرش زرو امريکايي سمندري ځواکونوليږل په داسي وخت کي امضآ کړل، چه دوي خپله په ۲۰۰۸ کال کي په افغانستان کښي دپوځونو دډيربښتونو( تر دوه چنده هم ډير) پوره تجربه درلودله، ولي دښه امنيت د راوستلو پرځاي يي نوي بي امني، بشري او اقتصادي تلفات دځان سره راوړل. که څه هم و افغانستان ته ددې ځواکونو داستولو لړي هم شروع سوي، ولي دناټو دهيوادونو څخه هم دا راز غوښتنه سوي ده، چه خپل نور نوي پوځونه افغانستان ته وليږي. ولي دامريکا له طرفه به ددې پرو سي پوره تاکيد دجنوري د۲۸ مې نيټي په هغه نړيوال کنفرانس کښي وسي، کوم چه دافغانستان په هکله په لندن کښي جوړيږي.

ولي بايد ووايو چه داکنفرانس به هم دتوکيو، پاريس اونوروهغو **تيروکنفرانس**ونويوتبليغاتي تسلسل وي، کوم چه وافغان ولس ته يي بيله نوو زورونو، ولی بشري او اقتصادي جنايتکارانوته بيا دنوو خالي بکسونو دډکولو څخه بله کومه نتيجه نه ده راوړي. ولي که ددې کنفرانس فضا دافغانستان دلانجي د سياسي حل پر لاره داسي خلاصه سي، چه دکنفرانس ګډون کوونکي وسياسي حل ته سرونه ټيټ او نظامی زور زياتي ته نور دپاي ټکي کښيږدي، نو په هغه صورت کي به نه يوازي افغان ولس بلکه د نړيوالو ولسونو به هم دخوښي او استقبال سبب وګرځي. ولي داسي معلوميږي چه اوس هم يو شمير امريکايي او ناټويي واکمنان دمرکزي آسيا ه او دکسبين د بحيري د تيلو او ګازو ته دلاس رسی او هم دهند او چين داقتصادي محاصري په خوبونو کي غرق دي. او په دې لاره کي دخپل پخواني ايديالوژيک رقيب ځاي ناستي يعني روسيه (اوسني نظامی او راتلونکي اقتصادي رقيب) څخه دکومک داسي غوښتنه کوي، چه هغه په خپل کور کي محاصره، پښي او لاسونه يي وروتړي. ځکه نوداسي دسالم تعقل څخه ليري فکرونه يوازي ويلايسو چه : خواب است، مهال است و جنون.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ولي دا واكمنان بيا هم په افغانستان كي د خپلو پوځونو دډيربښت او په اصطلاح دتروريزم پر ضد مبارزي ته تر نامعلوم وخته ادامه غواړي. ولي خوشبختانه دناټويي هيوادونو واكمنان په افغانستان كي ددې مجهول جنګ په وړاندي دخپلو ولسونودداسي سختو فشارونو سره مخامخ دي، چه كيدلايسي دولسونو دافشارونه دا كنفرانس تر ډيره حده تر خپلي اغيزي لاندي راولي.
ولي دبله طرفه به دانړيوال كنفرانس دنړيوال بي ساري لوي مالي بحران (چه تر درو هفتو په كم وخت كښي په اقتصادي لوي بحران باندي واوښتي) دمستقيمي اغيزي څخه به هم ليري پاته نه سي. ٠
١ـ بايد ووايو چه داوباما دنوي ستراتيژي هغه برخه چه بايد امريكايي پوځونه د٢٠١١ كال دنيمايي څخه خپله دوتلو لړي پيل كړي، د يوشمير بهرنيو دولتونو او داخلي زور واكوو دغبرګونونو سره مخامخ سول. دمثال په ډول د ناټو په ترون كي دروسيي استاځي او هم يو بل روسي ډيپلومات دجنوري په ١٣ مه نيټه داسي وويل : كه ناټوخپلي قواوي دافغانستان څخه بيله كاميابي وباسي، دابه دناټو په پاشل كيدو باندي تمامه سي. ولي دبله طرفه په هم دې ورځ دبلخ والي (لوي جنګ سالار) په يوه مصاحبه كښي داسي وويل: كه امريكا خپلي قواوي دافغانستان څځه وباسي، افغانستان به بيرته ډيرژر دتروريزم او مخدره موادو په مركز باندي تبديل اواداري فساد به هم ډير سي، او غوښتنه يي وكړه چه دا قواوي (اشغالي قواوي) بايد دلته پاته سي.
غواړم چه ددغو دوومصاحبو په هكله لږ څه مكث وكړم. هغه داچه :
دا دافغان ولس دملي ګټو ضد پورتني څرګندوني په واقعيت كښي ددوي هغه ريښتيني ارادې ښكاره كړي، كوم چه دكلونو، كلونو راهيسي دوي دداسي يوه پيچلي سياسي وضع ترې وه، څو دداسي پيچلي سياسي، جنګي حالت په نتيجه كي دوي خپلوهغونارروا ګټو ته ځانونه ورسوي، كوم چه په هغه كي دافغان ولس بربادي دليري پكښي څرګنده ده.
بايد ووايو چه دروسيي ګټې په دې كي دي، چه دامريكا پښې په هغه لومه كي نوري هم ټينګي بندي سي، كوم چه ٨٠ يمه لسيزه كي دپخواني شوروي اتحاد پښي پكښي بندي سوي وي. ځكه هرڅونه چه امريكا په دې لومه كي بنده پاته سي، په هغه اندازه به ژرتر ژره روسيه خپل اقتصادي حالت جوړ او دابرقدرتي وبيرغ ته به دخپلو ملګرو سره يوځاي ځانونه ورسوي. ځكه نو روسيه به دناټو په ځانګړي توګه دامريكا سره خپل هغه ترون نور هم ټينګ او عملي كړي، كوم چه د روسيي او د مركزي آسيا دځينو هيوادونو دلاري څخه په افغانستان كي ددوي قواووته لوجيستيكي او په راتلونكي كي بيا دنظامي ټوكو اكمالات تامينوي. او داسي معلوميږي چه په دې كي دروسي څوجهته ګټي نغښتي دي :
لومړي ـ هغه اقتصادي ګټي چه د ځينو خوراكي او هم استهلاكي موادو دپلورلو او ددې اكمالاتو درسيدو په نتيجه كي يي دوي تر لاسه كوي.
دوهم ـ دناټو ترون ته يي دپخواني شوروي اتحاد دځينو هيوادونو د ور تګ منع كول.
دريم ـ په پولينډ كښي دامريكايي راكټونو د نصبولو دپروسي وتعويق ته اچول.

داهم بايد ووايوچه امريكا پر افغانستان باندي ديرغل دلومړي ورځي څخه خپل لاسونه پرافغاني بشري او اقتصادي جنايتكارانو او خپلو تربيه سوو غربي تيكنوكراتانو باندي ايښي وه، كوم چه يو ځل هغو بشري او اقتصادي جنايتكارانو افغانستان دبربادي وكندي ته ورپوري وهلي اوملي شتمني يي چور او چپاول كړي وه. ولي په دې امريكايي يرغل سره دوي بيا ځيني دغارونو او ځيني دنورو هيوادونو څخه راووتل، اوداځل بيا دې جنايتكارانو دغربي افغاني تيكنوكراتانو سره يو ځاي، دا ولس ددوهم ځل له پاره يرغمل او په ګډه سره ددې يرغمل سوي ولس پر غير منقولو ملي شتمنيو باندي دناټو په زور اود كرزي په مستقيم كومک او دده تررېري لاندي لاسونه راوګرځول، او ورځ په ورځ هر څه چه ددوي خوښ او په ګټه يي وي، دملت دنامه څخه يي ليري كوي، او پر خپلو نومونو باندي يي په غير مشروع ډول قباله كوي. چه دا دښكاره غلا لړي يي اوس هم ادامه لري، چه ددې لاري څخه دې اقتصادي جنايتكارانو په غير مشروع ډول ځانونه دلس هاوو او سل هاوو ميليونو ډالرو خاوندان اودملي تجارانو نومونه يي پر ځانونو باندي كښيښول. او دوي دا خپل اقتصادي جنايات او ښه ژوند په واقعيت كښي ديرغل تر سيوري لاندي ويني، وطن او استقلال ودوي ته كوم ځانګړي اهميت نه لري. ولي ديادولووړ خبره ده چه دځينو نړيوالو جمعي رسنيو څخه داسي معلوميږي، چه يو شمير افغاني اقتصادي جنايتكاران چه په عربي نړي، په خانګړي توګه په ډوبي كښي پانګه اچونه كړي وه، دافغان ولس د زوررونو له كبله پاک خداي (ج) دا جنايتكاران هم په دې لوي نړيوال مالي او اقتصادي بحران كي سخت وټكول. ولي دوي دافغان ولس له بيري نه ځانونه پټه خوله نيولي، او هيڅ ږغ او شكايت يي نه پورته كيږي.
٢ ـ دلندن دنړيوال كنفرانس رهبري ته يو وړانديز:
كشكي په ١٩ مو او شلمو پيړيوكښي زموږ اجدادو پر افغانستان باندي ديرغلي لښكرو تر ماتو وروسته دهغو لښكرو د پاته سوو بوټونواو جنګي مهماتو څخه يو موزيم جوړ كړي واي، نن به ستاسو ټولو له پاره ددې ملت دغيرت او سرتيرني عيني لمسي انځور واي، او تاسو به ددې ملت په هكله په ډير څه پوهيدلي او ډير څه به موځيني زده كړي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولـئ

واي. ولي متاسفانه چه داسي موزيم نن په دې وطن کي شتون نلري. ولي بيا هم تاسو کولايسي چه ددې غيورولس تاريخ يوازي نيژدي د دوو پيړيو څخه يا دابدالي ستر احمدشاه څخه شروع بيا ستاسو ددې ۸ کالو تر يرغل پوري په لږ دقت سره يي پاڼي راواړه وي، تاسو ته به ددې ملت هغه سرشاره مينه چه دخپل وطن داستقلال سره يي لري ښکاره درته په ګوته سي.

بايد ووايو چه ددې ملت غيرتي مقاومت دشلمي پيړي په سر او پاي کښي ټولو نړيوالو وليد، هغه داچه لويه برتانيه په برتانيه او اتحاد جماهيرشوروي يي په روسيه باندي تبديل کړل.

ولي متاسفانه چه نن بيا تاسو ددې ملت سره دمقابلي په ازمون کښي قرارلري. ولي ددې مقابلي نښي نښاني داسي ښکاره کوي. چه تاسو ددې ازمون څخه يوه دکاميابي لاره لري او بس، هغه داده چه دجنوري د۲۸ نيټي دلندن په نړيوال کنفرانس کښي ددې ازمون پاي داسي اعلان کړي، چه دپوځي بي ځايه جنګ پر ځاي، دسياسي حل غوښتنه دافغانستان دګوډاګي دولت و مسلحانه مقاومت ته، بيله کوم قيد اوشرط اعلان کړي. ځکه وسله وال مقاومت په اوس مهال کي خپل ځان دارګ ودروازي ته نيژدي کړي، چه ښه مثالونه يي دسينا پر هوټل، دعدليي پر وزارت او دجنوري پر ۱۸ مه فروشګا ه بزرګ افغان اونورو ارګ ته نيژدي ساحوکي ددوي بريدونه وه. ځکه نو دابه وتاسو ته ډير ښه فرصت وي، چه تاسو به يي د ناکامۍ دلاري څخه راګرزولي، او نه يوازي دافغان ولس بلکه دخپل ولس دهيلو سره به مو هم سم قدمونه اخستي وي، چه په پايله کي به يي نه يوازي په افغانستان بلکه په منطقه کښي به هم دصلح بيرغ ورپيږي. لکه تاسو ته چه خپل يو پخواني ملګري او ليکوال (ويليم آرـ پولک) هم دافغانسنتان له پاره دنوي ستراتيژي دجوړولو پر وخت دخپل ليک په يوه برخه کښي داسي درته ليکلي وه :( ځيني بهرنيان له اشغال سوو سيمو څخه تر ناکامۍ وروسته وتلي دي، خوځيني بيا په دې پلمه بيرته وزي، چه ګواکي نور خپل هدف ته ورسيدل، او دپاتيدو اړتيايي نسته. زه باور لرم چه امريکا اوس هم په افغانستان کي خپل هدف ته درسيدو فرصت لري.او دليکني په بله برخه کي بياداسي مخ ته ځي: داخو خوراپخ فکر دي چه بغاوت په يوه هيواد کي داشغال کوونکو دلاس پوځي حکومت په راوستلو پاي ته ورسيږي. داهم په افغانستان کي دبرتانيويانو او پخواني شوروي اتحادتجربه ده، او هم په ويټنام دامريکا او الجزاير کي دفرانسي.) اوس نو ددې هدف دپاره بايد يو نړيوال کنفرانس راوبلل سي، او ودې کنفرانس ته داسي ديوه ريښتيني سياسي حل ميکانيزم چه دخلګو دريښتيني ارادې منعکس کوونکي وي وړاندي سي، کوم چه دهغه په نتيجه کښي افغان ملي ګټو ته وفاداره لنډ مهاله اداره جوړيږي، ددې نړيوال کنفرانس په تشکل کښي بايد دافغانستان داوسني دولت او وسله وال مقاومت استازي، يو شمير پاک محلي شخصيتونه او هم يو شمير په داخل او بهر کښي پر وطن مين مستقل سياسي کارپوهان او د ملي ډموکراټيکو ګوندونو استازي ګډون پکښي ولري.

پاى

اخځ : دلراوبر ويب پاڼه

تمت باالخير



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ